دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ

شهادت اونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

شهادت خلورم کال، ۴۲ مه ګڼه، پرله پسې ۱۹۷ مه ګڼه چهارشنبه ۱۳۹۱ هـ ل د کب ۱۲ مه د۱۴۳۴ هـ ق د ربیع الثانی ۲۳ مه د۲۰۱۳ م د مارچ ۶ مه

درس قرآن

هلاک او تباهي ده ډنډې وهونکو ته. هغوی چې له خلکو څخه راپیمانه کوي نو پوره یې اخلي او چې نورو ته پیمانه ورکوي او یا څه ورتلي نو کمې پکې کوي آیا پدې باور نلري چې راپورته به کړای شي. یوې لوی ورځې ته. پدې ورځ بـه تـول خـلـک د رب العالمین په وړاندې ودرېږي. (سورة المطففین: ۱ - ٦ آیتونه)

درس حدیث

از ابو هریره رضی الله عنه روایت است که: پیامبر صلی الله علیه وسلم فرمود: آنکه بخدا و روز آخرت ایمان دارد، باید مهمان خـود را احترام کند و آنکه بخدا و روز آخرت ایمان دارد، باید در انجام صلهء رحم پیوسته اقدام کند و آنکه بخدا و روز آخرت ایـمـان دارد، باید سخن خیر بر زبان راند و یا خاموش شود. (ریاض الصالحین)

PROPERTY OF ACKU

د کابل بانک دوه پخواني مشران په ۵ کاله بند محکوم شول

مجرمان باید د قید تر څنګ هغه ملیونونه ډالر بېرته بانک ته ورکړي چې د فساد د یوې پېچلې شبکې له لارې یې له کابل بانکه ایستلي او په بریتانیا، دوبی، سویس او امریکا کې یې پرې کورونه رانیولي دي - (قاضي شمس الرحمن شمس)

کابل، رسنۍ:
یوې خاصې محکمې پرون د کابل بانک دوه جګپوړي اجراییه مشران د ملیونونو ډالره غلا په جرم په پنځه کاله بند محکوم کړل.
قاضي شمس الرحمن شمس د دې فیصلې لـه اعلانولو وروسته وویل، مجرمان باید د قید تـر څنګ هغه ملیونونه ډالر بېرته بانک ته ورکړي چې د فساد د یوې پېچلې شبکې له لارې یې ...

پاتې ۴ مخ

جاپان حدود ۱۱۷ میلیون دالر جدیداً با افغانستان کمک کرد

این کمک تازه شامل تعهدات مساعدت مالی جاپان به افغانستان است که در کنفرانس توکیو سپرده است.

کابل، رسانه ها:
وزیر خارجه افغانستان مـی گـویـد کـه از کمک جدید جاپان به این کشور در چـهـار بخش استفاده خواهد شد.
داکتر زلمی رسول گفت که مبـلـغ ۱۱۶.۹ میلیون دالر که جاپان به افغانستان کمک می کند در زمینه حفظ و مراقبت سرک ها در این کشور و ساحات دیـگـر بـه مصرف خواهد رسید. وی به روز سه شنبه در مراسم

بقیه در صفحه ۴

پاکستان برای از بین بردن شبکه های تروریستی بیشتر تلاش کند

همانگونه که مردم افغانستان از این فعالیت های تروریستی نگران اند ما هـم نـگـران هستیم، ما تلاش می کنیم تا حکومت و نظامیان پاکستانی را تشویق به مبـارزه جـدی برای از میان برداشتن این شبکه ها در مناطق سرحدی نماییم. (راسموسن)

کابل، رسانه ها:
سرمنشی عمومی ناتو می گوید، نهاد هـای سیاسی و مذهبی پاکستان به جای اظهـارات نادرست در قبال افغانستان باید برای از بـیـن بردن شبکه های تروریستی در آن کـشـور، تلاش نمایند.
اندرس فوگ راسموسن به روز دوشنبه در مصاحبهء اختصاصی با رادیو آزادی گـفـت که فعالیت این شبکه ها یک نگرانی بزرگ به کشور های عضو ناتو است.
"زمانی که مسالهء فعالیـت شـبـکـه هـای تروریستی...

بقیه در صفحه ۴

خدایه ته خویې دامن پسرلی کړې

(کاروان) - دریم مخ

هند او چین پر افغانستان خبرې کوي

کابل، رسنۍ:
هند او چیـن پـه ۲۰۱۴ مـیـلادي کـال لـه افغانستانه دامریکایي ځـواکـونـو تـر وتـلـو مخکې د افغانستان د حالاتو په اړه دخـبـرو غوښتنه وکړه. دواړو هیوادونو موافقه وکـړه چې د افغانستان په اړه منظمې خـبـرې پـیـل کړي.
په نوي ډیلي کې ډیپلوماتانو وویل چـې پـه دې برخه کې د هند او چین ترمنځ په رسمي کچه یوه رسمي موافقه شوې ده او تـاکـل شوې چې د دواړو خواوو ترمنځ په دې اړه د لومړنۍ غونډې لپاره نېټه وټاکل شي.
هند او چین تر دې مخکې هم د منځنۍ اسیا، لوېدیځې اسیا او دغه راز افریقـا پـه اړه پـه خپل منځ کې خبرې او سلا مشورې کولې.
د هند د ملي امنیت سلاکار شیو شنکر منون تېره اوونۍ افغانستان او دغه راز مـسـکـو تـه سفرونه وکړل. ده په مسکو کې د افغانسـتـان په باب د هند، روسیې او چین پـه لـومـړنـۍ درې اړخیزه غونډه کې ګډون وکړ.
د هند (انډین ایکسـپـریـس) ورځـپـاڼـې د دوشنبې د ورځې په ګڼه کې پـه یـوه راپـور کې وویل: په دغو خبرواترو کې د پـام وړ خبره دا وه چې د چین په وړانـدیـز پـه دې موضوع خبرې اترې کېږي.

امریکا د کجکي بند د پروژې پاتې چارې افغان حکومت ته سپاري

کابل، رسانه ها:
په دوه زره لسم کال کې، د افغـانسـتـان جنوب ته د امریکا د پیاده سـمـنـدري ځواکونو د ورتګ یو هدف د هلمند پر سیند د ستر بند د امنیت تامین و؛ تـرڅـو د امریـکـا د مـرسـتـو پـراختـیـایـي اداره (USAID) د دې بند د بیا رغولو کار پیل کړي.
دا کندهار ښار ته، چې د افـغـانـسـتـان دوهم لوی ښار دی، د برق رسولـو تـر ټولو ستره پروژه ګڼل کیـږي. خـو پـه کجکي کې د دې بـنـد تـر شـاوخـوا رسیدل اسان کار نه و.
د کجکي بند ته د تـلـلـې سـرک لـه شاوخوا سیمو د وسله والو طـالـبـانـو د

پاتې ۴ مخ

د پوهنې وزیر تل د سولې غږ اوچت کړی

(محمد خلیل)

هر مسلمان او مؤمن د خپل اسلامي او ایماني مسؤولیت له مخې مکلف دی چې تل پخپلو ویناو، لیکنو او بیانیو کې له بشپړ دیانت او دقت څخه کار واخلي، داسې کومه خبره له خولې ونه باسي چې دچا شخصیت، تقوی، عزت او ابرو ته تاوان ورسېږي، په ځانګړې ډول په هغه صورت کې خو د ډېرې سترې ګناه مرتکب کېږي، چې تورنکوونکی پر چا تور لګوي هغه بې ګناه وي، خو ډېر افسوس چې په افغاسنتان کې تراوسه پورې ډېری خلکو دغه اسلامي اصل ته غاړه نه ده ایښې او په سلو کې سل د خپلو نفساني غوښتنو په لومه کې نښتي دي او هغه څه له خولې وباسي...

پاتې دریم مخ

منصوري:
خدمات ترانسپورت شهری معیاری می شود

کابل، رسانه ها:
وزارت ترانسپورت و هوانوردی افغـانسـتـان می گوید که برنامهء را به هـدف مـعـیـاری سازی عرضهء خدمات ترانسپورت شـهـری، روی دست دارد.
به گفتهء مسوولان وزارت ترانسپـورت و هوانوردی، هند تعهد سپرده که حدود یک هزار موتر ملی بس را در اختیار حکومت این کشور قرار می دهد.
مقام های این وزارت می گـویـنـد: قـبـل از رسیدن این وسایط شهری برنامهء را به منظور ایجاد یک سیستم عرضه خدمات مـعـیـاری ترانسپورت شهری روی دست گرفته اند.
جارالله منصوری معین پالیسی این وزارت به روز سه شنبه در صحبت با خبرنگاران گفت: تلاش می کنند تا این بار تجارب سال هـای گذشته تکرار نشود.
آقای منصوری همچنان گفت که کـوریـای جنوبی نیز تعهد سپرده که بـرنـامـه تـنـظـیـم ترانسپورت شهری را از لـحـاظ مـالـی و تخنیکی کمک می کند....

بقیه در صفحه ۴

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

په ایران او پاکستان کې د میشتو مهاجرینو ستونزي به څوک هواروي؟

په ایران او پاکستان کې میشته مهاجرین له یو عالم ستونزو او کړاوونو سره لاس او ګرېوان دي په ځانګړي ډول د دوارو هېوادو حکومتونه چې له مهاجرینو سره کوم ناوړه سلوک کوي هغه د بیانولو نه دي، په ایران کې چې د تېرو څو کلو راهیسې له افغان مهاجرینو سره کوم زړه بوګنوونکي ظلمونه شوي دي هغه په انساني تاریخ کې بې سارې دي، خو پوښتنه داده چې دغو مهاجرینو ته به دهغوی له دغو ناروا او غیر انساني تیریو څخه څوک نجات ورکوي او تر څو به دا بیچاره او مجبور مهاجرین دهغوی د ظلم په ژرنده کې دلیل کېږي؟ تر څو به د افغانستان ولس دهغوی په دې حالت اوښکې تویوي او خپل زړونه به خوري؟! او آیا د اوښکو په تویولو او احتجاجونو سره به دهغوی دا مشکل حل هم شي او که نه؟!

له تجربې نه دا ثابته شوي چې نه اوښکی تویول څه ګټه لري او نه هم احتجاجونه او غندنې، د تېرو څو کلو راهیسې دا ټول کارونه وشول اوښکې هم ډېرې توی شوې او چیغې فریادونه هم، خو هېڅ ځای یې ونه نیوه، ددې پرځای چې د افغانانو د اعدامولو او ځورولو لړۍ کمه شوی وای لاپسې زیاته شوه، پوښتنه داده ایا افغانان به خپل مهاجر ورونه تر اخره د لیوانو خوراک ته پرېږدي او که د خلاصون لپاره به یې عملي ګامونه هم اوچتوي؟! آیا هغه څه به کوي چې مهاجرین په واقعي معنی له دغه بدحالت نه نجات بیا مومي او که صرف ژړاګانو او احتجاجونو ته به زور ورکوي؟

په دې خبره باید سرخلاص کړو چې ددغې مسئلې حل نه په ژړاګانو کې ده او نه هم په احتجاجونو کې، بلکې ددې خبرې ضرورت دی چې د افغانستان حکومت او ولس دی لپاره د حل یوه معقوله لاره وسنجوی او هغه لاره چاره پیدا کړي چې مهاجرین بېرته خپل هېواد ته په ستنېدو دهغوی د ظلم له منګولو نه خلاص شي. افغانستان اوس دومره کمزوری نه دی چې د خپل سرنوشت د ټاکلو او د پرمختګ په لور د ګام اوچتولو توان ونه لري، که چېرته د یو منظم پلان او منظم چوکاټ په رڼا کې ګامونه اوچت کړي نو داسې کوم لوی مشکل نه لیدل کېږي چې پر خپلو ستونزو قابو ونه موندلې شي، صرف د ضوابطو او قواعدو پابندي غواړي چې خپل ژوند ورباندې عیار کړي.

په فعلي شرائطو کې افغانستان په یو داسې حالت کې قرار لري چې که چېرته له اصراف او غیرضروري آسایشاتو او سهولتونو څخه ډډه وکړي نو د افغانستان هر وګړی کولې شي پخپل هېواد کې د عزت او ابرو ژوند تېر کړي، د دولت عادلانه ویش وشي او د هرافغان بنیادي ضرورتونه په نظرکې ونیول شي، دهرډول اصراف، عیاشي او بې عدالتي مخه ونیول شي، د بیلګې په ډول افغانستان هر کال د ۷۲ میلیونو ډالرو سګریټ او لدېنه څو برابره زیات شراب او همداسې نور غیرضروري او مضر صحت توکې واردوي، دا هغه څه دي چې د افغانستان د اقتصاد ملا له ماتولو او د خپل ولس د ژوند د بربادولو پرته بل هېڅ ګټه نه لري، که د افغانستان حکومت او ولس وغواړي په همدغو پیسو خپلو هغو مهاجرو ورونو ته په افغانستان کې د اوسېدو ابرومندانه زمینه برابرولې شي چې په ایران او پاکستان کې له ستونزو ډک ژوند تېروي.

دهغو لوړ پوړو چارواکو، سرمایه دارو، تاجرانو، خانانو او ځوانانو ژړاګانې او احتجاجونه به په پردیو هېوادو کې پرتو مهاجرینو ته څه ګټه ورسوي چې لږ تر لږه د خپل سګرټ، نسوار، چیلم، شراب او نورو غیرضروري شیانو او عیاشیو پیسې د خپل مهاجر ورور د بیا آبادولو لپاره نه شي ورکولې.

د مهاجرینو د مظلومیت په خلاف دهغو چارواکو، لیډرانو او زورواکانو چیغې او فریادونو ته به څوک د واقعیت په سترګو وګوري چې پخپله خو په زرګونو جریبو زمکو ناروا غصب کړې او لګیا دي ښارونه پکې جوړوي مګر د خپل مهاجر ورور لپاره د جونګړو جوړولو هېڅ غم ورسره نشته.

له مظلومو او بې کوره خلکو سره همدردي دا نه ده چې صرف افسوس ورباندې وکړې شي، بلکې واقعي همدردي داده چې هغه ته له دغه حالت نه د نجات ورکولو په خاطر د مرستې لاسونه اوږد کړی شي. خو ډېر افسوس زموږ چارواکي او ولس د اوښکو له تویولو او احتجاجونو پرته بل هېڅ کارونه په یاد نه لري، ددې پرځای چې د خپل حالت د سمون او ښه کولو لپاره پخپله کوښښ وکړي پر بل چا ځانونه تاوانوي په داسې حال کې چې د الله تعالی سنت او قانون دادی چې تر څو پورې یو قوم د خپل حالت د بدلولو کوښښ پخپله ونه کړي. الله تعالی یې نه بدلوي.

وابستگی و باردوش دیگران بودن تا چه وقت؟!

اعزامی

در جهان بال و پر خویش گشودن آموز
که پریدن نتوان با پر و بال دیگران

حاکمیت ملی در کشور ما و در هر جامعهٔ آزاد و مستقل دیگر به مردم تعلق دارد؛ نحوهٔ إعمال این اصل در جوامع مختلف فرق می کند، در جوامع ابتدایی و کوچک مردم بطور مستقیم آن را إعمال می کند، مگر در جوامع بزرگ تر معاصر إعمال این اصل به گونهٔ مستقیم امکان پذیر نبوده و مردم از طریق انتخاب نمایندگان شان در چوکات نهادی بنام پارلمان آن را إعمال می کنند. در قوانین اساسی اکثر کشورها و بالاخص قانون اساسی کشور ما، دفاع از استقلال، تأمین امنیت، تمثیل حاکمیت ملی و حراست از تمامیت ارضی، از وظایف اساسی دولت به شمار می رود. چنانچه مواد ۴ و ۵ قانون اساسی افغانستان درین مورد اشاراتی صریحی دارد.

پس از آنکه اخیراً شایعات خروج نیروهای خارجی از افغانستان بالا گرفت، بعضی حلقات و افراد در کشور ما ابراز نگرانی کرده اند که با رفتن خارجی ها از افغانستان، نیروهای دفاعی و امنیتی ما گویا توانایی و ظرفیت تأمین امنیت و مقابله با حوادث و تهدیدهای داخلی و خارجی را نداشته و اوضاع دوباره به حالت یازده سال قبل بر می گردد. قبل از آنکه درین مورد صاحب این قلم تبصره ای داشته باشد، بیائید که پاسخ همچو نگرانی ها را از زبان جناب حامد کرزی رئیس جمهور کشور مان بشنویم:

رئیس جمهور در مصاحبه اخیرش با خبرنگار تلویزیون (C.N.N) به پاسخ سوالی گفت: "ما نمی توانیم برای همیشه و به گونهٔ دوامدار به جامعهٔ جهانی وابسته بوده و باردوش خارجی ها باشیم." رئیس جمهور این سخنان را در شرایطی به زبان آورد که اخیراً در بعضی محافل داخلی و خارجی نگرانی های به گوش می رسد که گویا در اثر کاهش و یا خروج نیروهای بین المللی از افغانستان در سال ۲۰۱۴، ثبات و امنیت فعلی در کشور برهم خواهد خورد. رئیس جمهور ضمن تبصره روی این نگرانی ها گفت: "من این وضعیت را کاملاً درک می کنم، اما خودم ازین ناحیه نگران نیستم. من به خاطری ازین بابت نگرانی ندارم که وجیبه تأمین امنیت در افغانستان مربوط به ملت افغان است و افغان ها خود باید امنیت کشور خویش را بگیرند، ما نمی توانیم برای همیشه و به گونهٔ دوامدار به جامعهٔ جهانی وابسته باشیم، ما باید امنیت خودمان را خود تأمین کنیم و همچنان اسباب معیشت و زندگی خود را خودمان فراهم کنیم."

اظهارات رئیس جمهور کشور در رابطه به اوضاع امنیتی پس از سال ۲۰۱۴، حامل همان پیامی است که مصداق آن را می توان نخست در مورد قانون اساسی کشور دریافت کرد، ثانیاً اینکه افغانستان یک کشور آزاد و مستقل است و اصل حاکمیت ملی حکم می کند که امنیت کشور باید توسط افغان ها تأمین شود. ثالثاً اینکه به گواهی تاریخ افغان ها مردم آزاده و غیوری اند که در طول تاریخ پنج هزار ساله خویش آزاد زیست کرده اند و حلقهٔ غلامی هیچ قدرت استعماری و اشغالگر را به گردن نینداخته و ننگ اسارت را قبول نکرده اند، چنانچه شکست و انقراض دو امپراطوری عصر در اوایل و اواخر قرن ۲۰ در مقابله با مجاهدین افغان شاهد خوب این مدعا است.

پیام دیگر رئیس جمهور از اظهارات فوق الذکر متوجه ملت افغان، بویژه مسؤولان و اولیای امور است تا بدینوسیله به آنها حالی نماید که وابستگی دوامدار و باردوش بودن اغیار، با ارزش های دینی، افتخارات تاریخی، غیرت ملی و هویت افغانی ما همخوانی ندارد. حضور یازدهٔ سالهٔ خارجی ها در کشور ما به مقصد تأمین امنیت در برابر دهشت افگنی و مداخلات بیرونی در شرایطی توجیه پذیر بود که پس از سه دهه جنگ در سال ۲۰۰۱ در نتیجه معاهدهٔ بن، دولت جدید تشکیل گردید، در آن وقت تمامی پایه ها و ارکان ضروری دولت از هم پاشیده بود و حکومت توان انجام وظایف خود را بدون حمایت و کمک جامعهٔ جهانی نداشت. کمک جامعه جهانی با دولت افغانستان در ابعاد امنیتی، سیاسی، اقتصادی و بازسازی در جریان یازده سال، موجب گردید که امروز دولت افغانستان روی پای خود بایستد، پایه ها و ارکان دولت إحیا و بازسازی گردیده و دولت در عرصه های نظامی، سیاسی و اقتصادی به حد خود کفایی برسد. حمایت امنیتی یازده سالهٔ جامعهٔ جهانی در افغانستان و صرف ملیاردها دالر برای بازسازی افغانستان در عرصه های گوناگون کشور ما را از شرایط وابستگی و باردوش بودن نجات داده و اکنون دولت می تواند که در غیاب نیروهای خارجی، از استقلال، حاکمیت ملی و تمامیت ارضی کشور حراست نموده و به تنهایی امنیت را در کشور تأمین کند. در شرایط فعلی در افغانستان نظام سیاسی مستقر است، رئیس جمهور و پارلمان منتخب وجود دارد، تعداد نیروهای امنیتی ما به ۳۵۰ هزار نفر میرسد جامعهٔ جهانی اطمینان داده که تا سالیان دیگر افغانستان را حمایت مالی می نماید، ولی اگر ما باوجود این همه نگران باشیم که با رفتن خارجی ها، نیروهای داخلی توان تأمین امنیت را ندارد، چنین نگرانی ها از تصورات پوچ عناصر بادی الرأی، بیمار و بزدلی ناشی می شود که آنها کارنامه های تاریخی و هویت ملی خویش را فراموش کرده و می خواهند ملت ما برای همیشه باردوش دیگران باشند، این آقایون به این حقیقت لحظهٔ مکث نکرده اند که امنیت دیگران را کی گرفته تا فرزندان آنها اینجا بیایند و امنیت را بگیرند؟! ملتی که پس از یازده سال کمک و حمایت هنوز توان ایستادن روی پای خود را نداشته باشد، آن ملت هرگز و ابداً این توان را پیدا نخواهد کرد و نیروهای خارجی هم هیچگاهی حاضر نیستند که تا ابد نیازمندی های امنیتی و معیشتی ما را تضمین کنند، زیرا عاقبت ادامهٔ این حالت مردم را به مفت خواری، وابستگی و اسارت ذهنی سوق می دهد که این وضعیت برای ملت های آزاده و غیور، مایه ننگ است.

رئیس جمهور با درک عمیق از عاقبت ادامه وابستگی و شناخت از تاریخ دین و فرهنگ مردم افغانستان گفت که: ما نمی توانیم برای همیشه و به گونه دوامدار وابسته و باردوش جامعه جهانی باشیم. زیرا وابستگی دوامدار به نیرو و پول خارجی آسیب های زیادی به حاکمیت ملی و حق خود ارادیت افغان ها وارد می کند. روی همین دلایل است که قاطبهٔ ملت افغان بالاخص رئیس جمهور و مسؤولین امنیتی افغان همیشه از قابلیت و ظرفیت بالای نیروهای داخلی حرف می زنند و از اعلان خروج نیروهای خارجی استقبال نموده اند. حمایت و تمویل یازده سالهٔ جامعه جهانی کافی است که شکست و ریخت های دوران جنگ و بحران تلافی شود و منبعد خود افغان ها به عنوان وارثان اصلی این مرز و بوم از وجب وجب خاک افغانستان حراست نمایند. در طول تاریخ کشور ما بار بار پیامد تهاجم نیروهای اشغالگر را تجربه کرده و این ملت در بحبوحهٔ جنگ و بحران بزرگ و آبدیده شده است تاریخ شاهد است که ملت افغان افتخار بزرگ انهزام نیروهای اشغالگر و مهاجم را دارد. ملت های اسیر درس آزادگی، جهاد و مقاومت را از افغانها آموخته اند، پس حالا چه شده که ملت افغان تا این حد بی استعداد و عدیم الاراده باشد که پس از یازده سال حمایت و کمک، باز هم توان دفاع از استقلال و حراست از کشور خویش را نداشته باشند؟ چنان نیست که بعضی عناصر و حلقات تصور کرده اند، بدون شک همچو ابراز نگرانی از طرف بعضی عناصر و حلقات ناشی از بزدلی و وابستگی ذهنی آنها به اغیار می باشد و اظهارات آنها از نظر قاطبهٔ ملت افغان نمایندگی نمی کند.

در طول تاریخ در برابر تهاجمات و لشکرکشی های خارجی، خود افغانها ایستادگی و مقاومت کرده اند و هیچ نیروی خارجی دیگر برای دفاع و حمایت آنها به کشور ما نیامده، آنچه که در طول یازده سال اخیر در افغانستان پیش آمد، حالت استثنایی ای بود که بار دیگر تکرار نخواهد شد و ملت افغان اکنون حتی این آمادگی و توان را دارد که در صورت بروز جنگ و بحران در کشورهای منطقه و همسایه، غرض تأمین امنیت به کمک آنها بشتابد.

نکتهٔ دیگری که برای حلقه ها و عناصر نگران از ناامنی های پس از سال ۲۰۱۴ یاددهانی شود اینکه: کمک خواستن از خارجی ها هم حد و مرزی دارد و به مصداق گفته رئیس جمهور ممکن نیست که ما بگونهٔ دوامدار و تا ابد وابسته و باردوش خارجی ها باشیم. یعنی اگر خارجی ها بگویند که ما حاضر هستیم که پس ازین سال باز هم امنیت شمار را بگیریم و به شما آب و دانه تهیه می کنیم، افغان ها باید با اظهار امتنان از کمک های گذشته آنها به پاسخ ایشان بگویند که خانهٔ تان آباد: زیرا ما اکنون توان تأمین امنیت و پیدا کردن معیشت را در خود می بینیم و به کمک ها و حمایت های مزید شما ضرورت نداریم و از اعلان خروج نیروهای شما استقبال می نمائیم. در حالیکه جامعهٔ جهانی در کنفرانس های لزبن، شیکاگو و توکیو فیصله کرده که نیروهای شان را بالتدریج تا آخر سال ۲۰۱۴ افغانستان خارج می کند و منبعد کمک های آنها در کشور ما نقش حمایتی و آموزشی خواهد داشت.

همین اکنون یک بخشی از این نیروها خاک افغانستان را ترک گفته اند و قسمت باقیماندهٔ آن نیز تا اخیر سال ۲۰۱۴ از کشور ما خارج خواهند شد. در همچو وضعیتی اظهارات یأس آور و بزدلانه نه تنها خارجی ها را برای باقیماندن ترغیب نمی کند، بلکه روحیه و عزم نیروهای ملی را نیز ضعیف می کند. لهذا بر اولیای امور است که منابع اصلی همچو شایعات و تبلیغات را ردیابی کرده و از اشاعه همچو افواهات در رسانه ها جداً جلوگیری نمایند.

به نظر نگارنده حلقات داخلی و خارجی ایکه از بدتر شدن اوضاع امنیتی، پس از خروج نیروهای خارجی ابراز نگرانی نموده و در این جهت شایعه پراگنی می کنند، حامل دو انگیزه است؛ یکی آنکه عناصر و حلقات داخلی ایکه درین مورد تبلیغات می کند، آنها اسلامی و افغانی نمی اندیشند، بلکه ایشان در حلیه اسارت ذهنی اغیار گیر مانده اند و با این تبلیغات عمداً می خواهند کشور ما برای همیشه وابسته و باردوش دیگران باشد. ثانیاً آنعده حلقات سیاسی و رسانه های خارجی ایکه همچو نگرانی ها را اشاعه می دهند، در تبانی با حلقات داخلی می خواهند که با چنین تهدیدها اذهان عامه بالخصوص ذهنیت هیأت حاکمه را مغشوش نمایند تا در معاملات سیاسی پس از سال ۲۰۱۴ با عقد قراردادهای رسمی از دولت افغانستان امتیاز بگیرند و با زیر سوال بردن کارنامه های درخشان تاریخی افغان ها در پیکار با اشغالگران و استعمارگران، روحیه آزاده و عالی ملت مجاهد و با غیرت افغان را سرکوب نموده و این ملت قهرمان را روحاً ورشکسته و ضعیف نگهدارند، ولی باید مطمئن بود إن شاء الله این خواب ها و خیال های واهی به حقیقت نپیوسته و ملت افغان جایگاه اصلی خود را باز خواهد یافت.

که راحت غواړې نو زحمت درلره بویه

(عبیدالله صافی)

له دې څرګند او منل شوې حقیقت نه هېڅ سالم عقل لروونکی انسان انکار نشي کولې چې راحت له زحمت او زیارګاللو پرته نشي ترلاسه کېدلې، لومړی به د میوو نیالګي نیالوي او بیا به د څو کلو پرلپسې زیارونو وروسته میوې خوري، لکه څنګه چې د نیالګیو د نیالولو او د فصلونو د تخم له شیندلو پرته خوراکي او غذایي مواد نشي ترلاسه کیدلې همداسې د ژوند په هېڅ یو ډګر کې له مسلسل زیار او هلو ځلو پرته پرمختګ او بریاوې نشي ترلاسه کیدلې، خو له بده مرغه موږ افغانان د ژوند په هر ډګر کې په مفتو کې بریاوې او پرمختګونه غواړو، د اقتصاد د پیاوړې کولو لپاره خو یو ګام نه اوچتوو مګر د ښه مرفه ژوند پسې لیوني یو، ساینس، ټیکنالوژي، صنعت، زراعت، تعلیم او تربیې په ډګر کې لازم خواري او زحمت نه وباسو مګر انکار تر ېنه هم نه شو کولی، له تار ستنې نیولې تر موټر، کمپیوټر، طبي سامان آلات، دارو، درمل، د خوراک، څښاک، پوشاک او نور ټولې اړینې توکې له نورو هېوادو څخه په لوړ قیمت رانیسو او خپل مشکل وربانديې پوره کوو. تراوسه پورې لږ تر لږه د زراعت په ډګر کې خودکفا نه یو او هر کال په ملیونو ټنه خوراکي توکې له نورو هېوادو څخه راغواړو، که الله مکړه په دغو خوراکي توکو بندیز ولګول شي نو د افغانستان نیم وګړي به په څو ورځو کې دننه دننه خپل ژوند له لاسه ورکوي.

ددغو ټولو سترو سترو نواقصاتو او نیمګړتیاو باوجود بیا هم موږ ډېر اوچت اوچت خوبونه وینو او خیال پلاوونه وهو، هغه لافې شافې کوو چې په اورېدو یې د نورې دنیا وګړي راباندې تعجب او خنداګانې کوي، همدا لامل دی چې له ستونزو او کړاوونو څخه د وتلو پرځای نور هم د ستونزو او غمونو په دنډ کې راولوېږو. دا هر څه پخپلو سترګو وینو خو ددې پرځای چې د ستونزو او غمونو له دغه دنډ څخه د وتلو منطقي او حتمی لاره ولټوو برعکس د نورو غلطیو ارتکاب کوو، ددې پرځای چې مات لاسونه پلستر کړو او پر ټپونو د مرهم پټۍ ولګوو نور یې هم ماتوو او مالګه او مرچکي وربانديې دوړو، څرګنده خبره ده چې دا د ناوړو پایلو پرته بل هېڅ نتیجه نه لري.

د افغانستان له ولسمشره نیولې د سیاسي ګوندونو د ټولو مشرانو په شمول هر یو د خپل هېواد او ولس پر بدحالت د غم او پریشانۍ څرګندونې کوې او کله ناکله خو وربانديې غټې غټې اوښکې هم تویوي، مګر متأسفانه لدې حالت نه د نجات د ترلاسه کولو لپاره دهغو ګامونو له اوچتولو څخه ډډه کوي چې په سلو کې سل پخپل واک کې لري او په وړاندې یې داسې کوم د توجیه وړ خنډ نه دی پروت چې د مثبتو ګامونو د اوچتولو مخه یې نیولې وي، د لوی الله په فضل افغانستان داسې هېواد نه دی چې له کرهنیزو زمکو، دښتو، غرونو، ځنګلونو، دریابونو، خوړونو او نور طبعي زیرمو او کانونو څخه خالي وي، الحمدلله دلته هر څه ډېر دي، ولس او ځوانان یې د نړۍ له نورو ځوانانو څخه زیات زیارکښ او اتلان دي، د تاریخ په اوږدو کې چې دوی له کومو لویو بلاګانو سره ډغرې وهلې او مقابله یې کړی ده، ښایي د نړۍ په تاریخ کې بې سارې وي، خو پوښتنه داده چې افغانستان ددغو ټولو الهي نعمتونو درلودلو سره سره بیا هم ولې د غربت، افلاس، ناامني او له نورو ډول ډول ستونزو سره لاس او ګریوان دی؟ ددې ټولو مسؤولیت دچا پرغاړه دی؟ ددې حساب او کتاب به له چانه اخیستل کېږي او څوک به یې ځواب ورکوي؟ ولس او که ددوی مشران؟ چارواکي او که رعیت؟!

د انصاف خبره خو داده چې ددې ټولو مسؤولیت د مشرانو پر غاړه دی، همدا مشران دي چې په افغانستان کې د بې اتفاقۍ اور یې بل کړې دی، همدا مشران دي چې د قوم، ژبې، رنګ او سمتي تعصبونو کرکه یې راپارولې، همدوی دي چې چا د یو بادار په پښو کې او چا د بل بادار په پښو کې د غلامی سرونه ایښی او دهغوی له خوا ورکول شوي پلانونه پرمخ بیایي، همدا لامل دی چې لږ تر لږه دهغو کارونو له کولو څخه هم ډډه کوي چې په سلو کې سل ددوی په واک او اختیار کې دی.

د بېلګې په توګه دوی په سلو کې سل کولې شول چې د افغانستان د راتلونکی په اړه ګډ دریځ ونیسي، د قومي، ژبني او سمتي تعصبونو څخه لاس په سر شي او ټول افغانان د اتفاق او ورورولي په ټغر کینوي.

د خپلو خپلو ډلو ټپلو د پاللو پرځای د افغانستان د ټولو وګړو پالنه او خدمت وکړي او ټول هغه شته امکانات چې په لاس کې لري په سمه توګه په کار واچوي، تر څو هېواد د پرمختګ په لور ګامونه اوچت، او خپل ستونزي تر یوې کچې کمې کړي خو ډېر افسوس چې دوی د خپل له دغه ایماني او افغاني احساس څخه غافل دي، ولس یې د خپلو بدمعاشانو او دهغو پیسو په زور چې له خپلو بادارانو او په هېواد کې د اداري فساد له لارې ترلاسه کړي یرغمل کړې دي، د احتجاج غږ اوچتولو ته یې نه پرېږدي که څوک د پورته کولو کوښښ هم وکړي په مرۍ کې یې وچوي، پرهغوی یې داسې حالت راوستې چې څومره د وتلو کوښښ کوي ترینه نشي وتلې او په جال کې د ګیر شوي ماهي په څېر ژوند تېروي، د افغانستان دغه یرغمل شوې ولس کله هم په دې حالت خوشاله نه دی او لومړی ارمان یې همدادی چې د یرغمل له دې بدحالت نه وویستل شي خو پر دوی یې د اور او اوسپنې داسې لوړ دیوالونه اوچت کړي چې وتل ترینه ډېر ګران کار دی، نو ځکه پر ولس ملامتي اچول بې ځایه ده، ولس چېرته دا ویلې دي چې موږ بې اتفاقي غواړو، هغوی خو په هره حجره او هر محفل کې له خپلو مشرانو سر ټکوي او ددې ټولو مسؤولیت دهغوی په غاړه اچوي ولس خو ددې خبرې ارمانجن دی چې د خپلو مشرانو له خولې د اتفاق خبرې واوري، چې کله هم مشران د اتفاق په ډګر کینې او د اقغانستان پر روانو حالاتو یو دریځ خپل کړي نو د افغانستان په ګوټ ګوټ خاوره کې به د خوشحالي جشنونه وشي او په ناری تکبیر سره به یې بدرګه کړي، نو ځکه ولس د ټولو ناخوالو او بدبختیو مسؤولیت دهغو مشرانو پر غاړه اچوي چې یوازې او یوازې خپلې ګټې په نظر کې نیسي او ولس د خپلو ګټو قرباني کوي، همدا وجه ده چې اولس پر خپلو مشرانو بې اعتباره دی او تر هغه ددوی په فریادونو او ژړاګانو باور نه کوي تر څو پورې چې د عمل په ډګر کې له خپل هېواد او ولس سره د مینې او خدمت ثبوت وړاندې نه کړي.

پخپلو کې په یو ټغر کیننې او په هېواد کې د شته الهي نعمتونو د ترلاسه کولو هلې ځلې ونه کړي، کرهنیزې زمکې حاصل خیزې او د شاړو زمکو د آبادولو او د قدرتي وسائلو د ویستلو لپاره جامع او عملي پروګرام جوړ نه کړي، ځوانان د تعلیم او تربیې له نعمت څخه برخمن، او د ساینس او ټکنالوژي په مد کې پرمختګ ونه کړي، خپل پوځ په نویو او مدرنو وسلو سنبال او د زراعت په ډګر کې خودکفایي ترلاسه نه کړي. دا هغه څه دي چې د چارواکو او د مشرانو له واک او اختیاره دباندې نه دي، که دوی واقعاً یو خپلواک سرلوړي او د ژوند په ټولو ډګرونو کې پرمختللی افغانستان غواړي نو د مکر د اوښکو د تویولو او جعلي فریادونو پرځای دی. عملي ګامونه اوچت کړي، له خپلو شخصي ګټو او ځان غوښتنو له ناوړو کارونو څخه لاس په سر، او د حق په وړاندې د خپلو ټولو ناروا خواهشاتو د قرباني کولو لپاره د زړه له کومې تیار شي.

پیرمحمد کاروان

خدایه ته خو یې د امن پسرلی کړې

کله چې له غرونو، رغونو، دښتو، دامانونو د وارو ټیکری ورټولیږي ورسره ورو، ورو په یخو ونو او بوټو کې ژوند غځیږي. وچ سرګړي شنه شي او د سهار نسیم په سرې خوږ لګیږي. مسافرې توتکی په غچ غچ سره د پسرلي زېری راوړي. انساني ارواوې او زړونه نوي ژوند ته هوسیږي. خو زمونږ دا زیات وکم د درې لسیزو ټول موسمونه شبیه په شبیه په وینو سره او په اوښکو لامده دي. دا ولې ؟ اخر تر کومه به مونږ د سپېره جنګ درانه او بې ګټې پیټي پر خپلو خوارو اوږو وړو او دمه به نه کوو ؟ مونږ ګلالیو پسرلیو هم نه یو خوشحاله کړي. زمونږ خلکو به دا خبره ډېره کوله: چې کله تیږې تودې شي ساړه جنګونه به هم تاوده شي . مونږ د پسرلیو په خوند و رنګ نه یو پوی شوي. د پسرلي ګلونه زمونږ د خوشحالیو د مجلسونو د ښکلا پر ځای زمونږ د وطنوالو پر قبرونو ایښودل کیږي.

د غوجره په ګل یې مړ کړې چې غوجره په وطن ګل شي وژاړمه

دا لنډۍ د وطن یوې داسې بورې مور ویلې وه چې زلمی زوی یې د پسرلي او غوجر ګلونو په موسم کې په جنګ کې وژل شوی ؤ.

د پسرلي ګلونه مونږ ته زمونږ د شهیدانو زخمونه را یادوي . یا الله د غمونو پرځای زمونږ خوشحالی له موسمونو سره وتړې.

څو ورځې وروسته به مونږ بیا د پسرلي د توتکیو مستانه غچ غچ واورو .ددې خواږه غچ غچ تر څنګ به د مکتبونو د زنګونو ازانګې هم زمونږ غوږونه ونازوي . خو پوښتنه داده چې د توتکیو غچ غچ ، د مکتب د زنګ ازانګې او دماشومانو شور او خندا به د توپ او ټوپک له زړه ازارونکې غږه خوندي پاتې شي ؟ زمونږ پر ذهنونو د جنګ خپسې خپل شوم سیوری غوړولی دی . که بنیادي علاج یې و نه کړو د مولا دا لوی نعمت ژوند به مو لکه په قمار کې بایللې روپۍ له لاسه وځي . که د خپل وطن په دې بد حالت مو فکر او عمل ونه کړ نو داسې کوم نااشنا جادوګر به پیدا نه کړو چې شپه دې بې غمه ویده یو سهار چې ګورو د امن ښاپېرۍ دې راغلې وي او زمونږ په ګلورینو او پسرلنیو دښتو کې دې یې خیمې لګې کړې وي. نه نه دا امکان نه لري.

که مونږ هم داسې لاس ترزنې ناست یو او د جنګ ببو ته په مړو سترګو ورګورو نو دا بده او بدرنګه بلا به هېڅکله پر مونږ رحم ونه کړي.

ګرانه اورېدونکیه : د خپل وطن دا په لسګونو تلویزیونونه به دې خامخا کتلې وي .دې ته به خیر وې چې کله هم یوه د خوشحالی سندره یې په متن کې ګورې نو په خاشیه کې به د مرګ ژوبلې خبرونه یو په بل پسې را روان وي .

امن او سوله څه د مرغۍ یی نه دي چې نه پیدا کیږي . که مونږ د خپلو زړونو له کعبو د کرکې او نفرت بتان ایسته وغورځول نو ګرانه نه ده چې د امن او بخت مرغی دې زمونږ په اوږه کې نه نیې او د خوشحالی سرود دې و نه وایي.

نن سبا چې د سولې خبرې هم روانې دي هغه افغانان چې په دې بهیر کې له هرې خوا ګډون لري الله خو دې هدایت ورته وکړي چې پر وطن او د وطن په بچیانو زړه وسوځوي . بس دی ذلیل حالت او د مور وطن کړېدل هم دومره بس دي .پرېږدی چې سږنی پسرلی له ځان سره د امن پرښتې راولي ، چې په مکتب کې نوي شاملې شوې ماشومانې او ماشومان په ډاډ او اطمینان د نوي ژوند سبقونه پیل کړي . دې راتلونکي پسرلي ته مو ټولې هیلې او ارمانونه انتظار ولاړ دي ، خدایه ته خو یې د امن پسرلی کړې.

د پوهنې وزیر تل د سولې غږ اوچت کړی

(د لومړی مخ پاتې برخه)

...چې هم د الله قهر ته بلنه ورکوي او هم د ولس تباهۍ ته لاره هواروي. په داسې حال کې چې د افغانستان غونډې هېواد هر اړخیز سمون او بیارغونې ته اړتیا لري تر څو له موجوده ستونزو څخه خلاصون ترلاسه، او په ارامه فضأ کې ژوند وکړي، مګر له بده مرغه ځینې پردي پالې کړۍ او تش په نامه مشران چې د څو قاتلینو او بدمعاشانو په زور د مشرۍ نومونه پر ځانو ایښې او د خپلو شخصي ګټو پرته بل هېڅ ارمان نه لري د افغانستان د ورانولو او کمزورۍ کولو لپاره ملاتړلې ده هر چېرته چې یو ایماندار، دیانتدار، د ولس او د هېواد رښتوني خدمتګار ووینې دهغه د تخریبولو لپاره متې رانغاړي، پر هغه ډول ډول بې بنسټه او بې اساسه تورونه لګوي تر څو لدې لارې وکولې شي په حکومت او ټولنه کې د پاکو او نیکو خلکو موجودیت ختم او پر ځای د خپلې خوښې فاسد، رشوت خور، قوم پرست او خواهش پرست سړی وګماري او خپلې لمنې په حرامو ډکې کړي.

په دې وروستیو کې ددغو ځیره خورو له ناولو ژبو نه د پوهنې وزیر فاروق وردګ غوندې شخصیت هم چې د ښوونې او روزنې په ډګر کې د ستایلو وړ خدمتونه یې کړي او په ډېر لږ وخت کې د هېواد په ګوټ ګوټ کې د علم او پوهې ډیوې روښانه کړې دي په امن کې نه دی پاتې شوې، ددې پرځای چې دهغه د خدمتونو قدرداني کړی وای وربانديې تورونه پورې کوي چې تومړی د جنګي ډلو مرسته او دهغوی په ګټه کار کوي، که څه هم د افغانستان په خلکو کې ددغو تش په نامه مشرانو کوم اهمیت او ارزښت نشته او نه څوک دهغوی په خوله پیاز خوري خو بیا هم د حقیقت د لاروښانه کولو په خاطر ددې خبرې اړتیا لیدل کېږي چې په دې اړه رڼا واچوله شي.

ښاغلی فاروق وردګ یو څرګند او معلوم الحال شخصیت دی، ماضي یې هم روښانه او بې داغه دی او حال یې هم. د هېواد او ولس لپاره دهغه خدمتونه او هلې ځلې هر چاته د لمر په څېر ښکاره دي، هغه تل د سولې، سلامتیا، امن، ورورګلوي، یووالي او د افغانستان د استحکام لپاره نه ستړي کېدونکي هلې ځلې کړی دي، تراوسه پورې داسې کومه خبره نه ده کړی چې له هغې نه د جنګ، تعصب او بې اتفاقي بوی راشي او نه هم له چاسره ددې ثبوت شته چې د دلیل لپاره یې وړاندې کړي، ښاغلې وردګ یو سپین او رښتینې سړی دی، هره خبره یې څرګنده او له تاویلاتو نه پاکه ده، له سولې سره دهغه مینه او تړاو لدېنه معلومېږي چې عملاً د سولې لاره یې خپله کړې ده او ددې د تحقق لپاره نه ستړې کېدونکی هلې ځلې کوي، د تعلیم او تربیې په ډګر کې چې کوم په زړه پورې او نه هېرېدونکي خدمتونه کړي. هغه ټول په دی خبره ګواهي ورکوي چې هغه هم پر سوله ییز ژوند مین دی او هم د هېواد په پرمختګ او امنیت باندې. هر څوک چې دهغه په خلاف ناروا او بې بنسټه تبلیغات کوي د خپلو مخونو له تورولو او د ګناه د پیټې له درنولو پرته بل هېڅ ګټه نشي کولې، د افغانستان خلکو ته د هر چا څهره هم معلومه ده او خدمت یې هم، سابقه یې هم معلومه ده او اوسنی کړنې هم، هغه داسې ناڅرګند شخصیت نه دی چې هېوادوال د څو معلوم الحالو تور مخو په ناوړو تبلیغاتو تېر ووځې.

افغانستان د نړۍ په رسنیو کې

په افغانستان کې تکنالوژیکي پرمختګونه

ټایم د افغانستان په اړه په یوه مقاله کې، په دې هېواد کې تکنالوژیکي پرمختګونو ته کتنه کړې.

ټایم لیکي، افغانستان د نورې نړۍ له سترګو داسې خاي دی، چې بنیادي تاسیسات له منځه تللي، د مدرنو امکاناتو څرک نه شته او د هغو تکنالوژیکي پرمختګونو څخه، چې نړۍ د انټرنټ، مالي خدماتو او مخابراتو په برخه کې کړي، محروم دی.

خو د ټایم په لیکنه، د نورو د تعجب لپاره باید وویل، شي افغانستان د موبایل په وسیله د پیسو د لیږدولو او انټرنټي بانکي چارو په هغه انقلاب کې مخکښ دی، چې له کینیا تر اندونیزیا پورې یې ټوله نړۍ نیولې ده.

اوس دا یوه غیر عادي خبره نه ده، چې د کابل د یوې امنیتي پوستې یو عادي پولیس د خپل نوکیا ۱۱۰۱ ټیلیفون په مرسته معاش تر لاسه کوي او په اصطلاح، د تنخواه پیسې یې موبایل جیبي بکس ته ورځي.

همدا پولیس بیا په همدومره اسانۍ او چټکۍ کولای شي، چې د افغانستان په یوه ډېره لرې پرته سیمه کې هم، د خپلې میرمنې موبایل ټیلیفون ته دومره پیسې ور واستوي، چې د کور لپاره ترکاري او میوه واخلي او د اشپزخانې لپاره د ګاز ډبه هم ډکه کړي.

د پیسو د لیږد داسې ساده او چټکه وسیله نه په امریکا او نه هم د نړۍ په ډېرو پرمختللو صنعتي هېوادونو کې شته، خو په افغانستان کې کار کوي.

دا هغه هېواد دی، چې د دېرش میلیونه نفوس نږدې اویا فیصده یې لیک او لوست نه شي کولای او تر پینځه فیصده کم خلک شخصي یا رسمي بانکي حسابونه لري.

په افغانستان کې د موبایل له لارې د پیسو د انتقال سیستم ته (M Paisa) ویل کېږي، چې د ټایم په لیکنه، د افغانستان په اړه د حقایقو یوه برخه ده.

په نیویارک کې (Citi's Global Transaction) نوم د پیسو د لیږدولو د یوې سترې کمپنۍ اجرایيوي مشر په افغانستان کې د موبایل ټیلیفون له لارې د پیسو د انتقال د امکاناتو په اړه، ټایم ته ویلي: زه په امریکا کې له داسې تکنالوژۍ نه یم خبر نو په دې کې شک نشته، چې دا یو ستر بریالیتوب دی.

لاس انجلس ټایمز ورځپاڼې د افغانستان په اړه په یوه مقاله کې د هغو افغانانو د ژوند په اړه تبصره کړې، چې په بېلابېلو ولایتونو کې له بهرنیو ځواکونو سره کار کوي.

لاس انجلس ټایمز ورځپاڼې د بېلګې په توګه، د کابل ښار په څو کیلومترۍ کې یوې وروستۍ حملې ته کتنه کړې ده.

ورځپاڼه لیکي: د دوو تنو افغانانو په مرمیو سوري شوي جسدونه د سرک په غاړه اچول شوي وو.

د دوي څخه یو ترجمان او بل یې امنیتي ساتونکي وو، چې د کابل ښار څخه د باندې یې په یوه نړیواله اډه کې کار کاوه.

د لاس انجلس ټایمز په وینا، د دې کسانو وژل کېدل هغو زرهاوو افغانانو ته د موجود خطر خبرداری ورکوي، چې په تیرو یولسو کلونو کې یې د ترجمانۍ او کلتوري سلاکارۍ په څېر بیلا بیلو برخو کې له نړیوالو ځواکونو او دیپلوماتانو سره مرسته کړې ده.

د چارواکو په وینا، افغان ترجمانانو او سلا کارانو له بهرنیو ځواکونو سره کمک کړې، چې د دې هیواد په کلتور او دود وپوهیږي او پدې ډول د ټولنې له مشرانو او مخورو سره اړیکي ټینګې کړي.

دې افغانانو له نړیوالو ځواکونو سره د کار کولو په خاطر هغه ټول خطرونه پر ځان اخیستي وو، چې نړیوالو ځواکونو ته مخامخ وو لکه د سرک پر غاړه بمي چاودنې او وسله والې حملې.

پر دې افغانانو له دندې څخه دباندې هم په بیلا بیلو وختونو کې حملې شوې دي. لاس انجلس ټایمز د مثال په توګه د ناټو د چارواکو په حواله وایي، چې وسله والو کسانو تیر کال څلرویشت تنه د امریکا په مشرۍ ایتلافي ځواکونو ته د کار کولو په خاطر ووژل.

خو د امریکا په مشرۍ پدې ایتلاف کې یو شمیر غړي هیوادونه داسې ځانګړې پروګرامونه لري، چې پر اساس یې دې افغانانو ته په خپلو هیوادونو کې ځای ورکوي.

مثلا کاناډا په ۲۰۱۱ کال کې خپل عسکر ستانه کړل او هغه ۷۵۰ افغانان او د هغوي کورنۍ یې هم ورسره وایستلې، چې په افغانستان کې یې له کاناډایي ځواکونو سره کار کاوه.

کاناډایي چارواکو ویلي، چې دا شمیره ښایي ۸۰۰ ته لوړه شي.

فرانسې او استرالیا هم د هغو افغانانو لپاره، چې له دوي سره یې کار کړی او د عسکرو له وتلو وروسته یې، ژوند له خطر سره مخامخ کېدلای شي، د (بیا میشتېدلو) د ورته پروګرامونو اعلان کړی دی.

خو لاس انجلس ټایمز ورځپاڼه وایي، چې بریتانیا، سره له دې، چې تر امریکا وروسته دوهم هیواد دی، چې زیات عسکر یې افغانستان ته استولي دي، داسې هیڅ پروګرام نه لري.

په کابل کې د بریتانیې د سفارت یوې ویاندې پدې اړه لاس انجلس ټایمز ورځپاڼې ویلي، چې له افغانستانه د بریتانوي ځواکونو تر وتلو وروسته به د هغو افغانانو د خوندیتوب مسالې ته جدي کتنه کوي، چې په افغانستان کې د دوی له خوا استخدام شوي وو.

جاپان حدود ۱۱۷ میلیون ...

امضای موافقتنامه این کمک مالی با سفیر جاپان در کابل در مورد مصرف آن توضیحات بیشتر ارایه کرد.

"البته جاپان از چند سال به اینسو مبلغی را برای خریداری تیل به وزارت مالیه افغانستان کمک می کند و ۶. ۳۴ میلیون دالر امریکایی کمک امروزی در راستای این هدف به مصرف خواهد رسید، ۸ ۱۶ میلیون دالر آن در زمینه توسعه پارکینگ طیارات و سیستم برق میدان هوایی بین المللی کابل مصرف خواهد شد، ۹. ۳۳ میلیون دالر به وزارت فواید عامه جهت حفظ و مراقبت سرک ها تخصیص داده شده است و بالاخره ۶. ۳۱ میلیون دالر این کمک ها در راستای ایجاد سیستم آبرسانی پروژه ده سبز یا کابل جدید به مصرف خواهد رسید."

آقای رسول، از جاپان بعد از ایالات متحده امریکا به عنوان کشور بزرگ کمک کننده به افغانستان در ۱۰ سال گذشته یاد کرد. او افزود که مساعدت های آن کشور در بخش های امنیتی، تعلیم و تربیه و ارتقاع ظرفیت نهاد های عدلی و قضایی افغانستان از موثریت زیاد برخورد دار بوده است.

در همین حال سفیر جاپان در افغانستان از ادامه کمک های جاپان به این کشور اطمینان داد. هیروشی تاکاشی گفت، این کمک تازه کشورش شامل تعهدات مساعدت مالی جاپان به افغانستان است که در کنفرانس توکیو سپرده است.

" با این کمک ها می خواهیم که دولت افغانستان به پای خود ایستاد شود. هفته گذشته مبلغ ۲۸۱ میلیون دالر را با سازمان ملل متحد امضا کردیم که جمعاً مساعدت های اخیر ما تقریباً به ۴۰۰ میلیون دالر می رسد. با این تقریباً نصف از مساعدت را که در کنفرانس توکیو به افغانستان تعهد کرده بودیم، از طرف ما کمک شده است."

آقای تاکاشی علاوه کرد که متباقی کمک مالی را که به افغانستان متعهد شده اند، تا سال ۲۰۱۶ در اختیار این کشور قرار می دهند. کنفرانس توکیو در مورد افغانستان به میزبانی جاپان در ماه جولای سال گذشته میلادی بر گزار شد.

کشور های کمک کننده به افغانستان در این نشست تعهد کردند که شانزده و نیم ملیارد دالر را با یک سلسله شرایط ظرف پنج سال آینده به این کشور مساعدت می کنند. در این اجلاس از حکومت افغانستان خواسته شد که با فساد اداری با جدیت مبارزه کند و در نحوه مصارف کمک های بین المللی حساب دهی و شفافیت لازم را به وجود آورد.

د کابل بانک دوه پخواني...

...له کابل بانکه ایستلي او په بریتانیا، دوبی، سویس او امریکا کې یې پرې کورونه رانیولي دي.

د محکمې د فیصلې د اعلان په مهال د کابل بانک پخوانی رییس شېرخان فرنود او اجراییه رییس خلیل الله فیروزي له شلو نورو متهمانو سره حاضر ول.

شل تنه نور د دې قضیې په تړاو د شپږو میاشتو او څلورو کلونو ترمنځ په قید محکوم شول.

کابل بانک په ۲۰۱۰ کال وروسته له دې د افغانستان بانک له لوري ضبط شو چې په دغه بانک کې له پراخو درغلیو او غلاوو څخه پرده پورته شوه. دا مسله سبب شوه چې د پیسو نړیوال صندوق افغانستان ته د ملیونونو ډالرو پور او مرستې ورکړه موقتاً ودروي.

د افغانستان لوېدیځ مرستندویان د خاصې محکمې له لارې د کابل بانک د دوسیو د تعقیب مسله په ډېر څېر څارې څکه چې د افغانستان حکومت له فساده ډک دی او اعتبار یې له لاسه ورکړی دی.

نړیوالو له ۲۰۱۴ وروسته له افغانستان سره د ملیاردونو ډالرو مرستو ژمنې کړې خو په مقابل کې یې له افغانستانه د شفافیت او د فساد د ختمولو غوښتنه کړې ده.

پاکستان برای از بین بردن ...

...و مراکز امن آنان در مناطق سرحدی پاکستان مطرح می شود ، هماڼگونه که مردم افغانستان از این فعالیت های تروریستی نگران اند ما هم نگران هستیم، ما تلاش می کنم تا حکومت و نظامیان پاکستانی را تشویق به مبارزه جدی برای از میان برداشتن این شبکه ها در مناطق سرحدی نماییم."

پیش از این حکومت افغانستان نیز از موجودیت پناه گاه های امن تروریستان و مخالفین مسلح این کشور در خاک پاکستان ابراز نگرانی کرده است. رییس جمهور کرزی گفته است تا زمانی که این مراکز در خاک پاکستان از بین برده نشوند، جنگ در قریه جات افغانستان نتیجه نمی دهد.

در همین حال منشی عمومی ناتو از سازمان های مذهبی و نظامیان پاکستان می خواهد تا بجای اظهارات نا درست در قبال افغانستان برای تامین صلح در این کشور همکاری نمایند.

آقای راسموسن در جواب به یک سوال رادیو آزادی در مورد وضعیت امنیتی افغانستان پس از سال ۲۰۱۴ گفت که این کشور به سوی پیشرفت و انکشاف در حرکت است. وی خطاب به مخالین صلح در افغانستان گفت که ناتو اجازه نمی دهد افغانستان یک بار دیگر دچار مشکلات و در گیر جنگ شود.

سرمنشی عمومی ناتو ندرس فوګ راسموسن در حال مصاحبه با حمید مهمند مسوول رادیو آزادی در کابل

"زمانی که ما ماموریت نظامی خود را در افغانستان پایان می دهم، در آن وقت یک نیروهای نظامی افغانی قوی سه صد پنجاه دو هزار نفری را در این کشور بجا می گذاریم، این نیروها کاملاً تعلیم یافته می باشند، و من فکر می کنم این نیروها توانایی تامین امنیت کامل این کشور را می داشته باشند، خوب اگر دشمنان صلح افغانستان فکر می کنند که پس از خروج عساکر بین المللی دوباره به افغانستان میایند، فکر می کنم این یک محاسبه نادرست است."

به اساس توافقات انجام شده میان مقام های افغان و کشور های عضوی ناتو قرار است نیروهای بین المللی مستقر در این کشور تا پایان سال ۲۰۱۴ میلادی افغانستان را ترک کنند.

سرمنشی ناتو می گوید که یک تعداد اندکی از این نیروها برای آموزش و مشوره به نیروهای افغان پس از سال ۲۰۱۴ در افغانستان باقی می ماند. وی، تاکید کرد که جامعه جهانی افغانستان را تنها رها نمی گذارد و به کمک های اش به این کشور در سال های آینده ادامه میدهد.

امریکا د کجکي بند د پروژې ...

ایستلو لپاره په عملیاتو کې تر پینځوس زیات امریکایي عسکر ووژل شول.

اوس دا بند او د بند شاوخوا سیمې د افغانستان دامنیتي ځواکونو او د امریکا د سمندري پیاده قواوو تر کنټرول لاندې دي.

خو د امریکا د مرستو پراختیایي ادارې (USAID) پریکړه کړې؛ چې د ۲۶۶ ملیونو ډالرو په ارزښت، د دې پروژې یوه ډېره مهمه برخه نه بشپړوي.

دې ادارې ویلي، چې د کجکي پر بند د اوبو برق د تولید د ستر توربین د نصبولو چارې د افغانستان حکومت ته سپاري.

د افغانستان لپاره د امریکا لومړیتوبونو تغیر کړی:

واشنګټن پوسټ لیکي، چې په افغانستان کې د امریکا د اوږدې جګړې په دې وروستیو ورځو کې، د عسکرو له کمیدلو، د بودجې له محدودیدلو او له دې جګړې د امریکا د ولس د مخالفت له زیاتیدلو سره په یوه وخت الویتونو تغیر کړی او د کجکي د بند بیارغول له هغو متعددو پروژو څخه ګڼل کیږي؛ چې کار یې ځنډول شوی او یا له سره طرحه شوی دی.

د ملکي چارو زیات ماهرین، چې د کجکي پروژه د سیمې د اوږدې مودې د ثبات لپاره اساسي ګڼي؛ باور لري، چې د افغانستان حکومت د کجکي پر بند د اوبو د برق د تولید د داسې ستر توربین د نصب توان نه لري؛ چې هغه په ټوله سیمه کې د بریښنا د تولید لپاره مهم دی.

د کجکي بند په نولس سوه پینځوس میلادي کال کې د امریکا د متحدو ایالاتو په مرسته جوړ شوی و.

د کجکي تاسیساتو تر ډېره حده یې افغانانو ته د امریکا د مرستو؛ قوت او مهارت څرګندونه کوله.

د کجکي بند په اړه د ملکي امریکایي کارپوهانو ویره:

ملکي امریکایي کارپوهان ویره لري، چې که د توربین د نصبولو په کار کې افغانان ناکام شي؛ نو ویره شته، چې دا ستر تاسیسات به د امریکا د ضعف او زړه توري کیدلو په سمبول بدل شي.

هغه امریکایي منصبداران، چې د کجکي د تاسیساتو د امنیت ټینګولو لپاره په عملیاتو کې یې ملګري وژل شوي، دې مسالې ته له ډېره شخصي اړخه ګوري.

د امریکا د سمندري ځواکونو یو لوړ رتبه افسر، چې نه یې غوښتل نوم یې واخیستل شي؛ واشنګټن پوسټ ورځپاڼې ته ویلي؛ چې په تیرو لسو کلونو کې د دې لپاره ډیرې وینې وبهیدې او ډیرې پیسې مصرف شوي دي.

البته، د امریکا د پراختیایي مرستو اداره (USAID) ټینګار کوي؛ چې د امریکا حکومت دا پروژه شاته نه ده اچولې.

امریکا د بند ۷۰ میلیونه ډالره د بریښنا شرکت ته ورکوي:

(USAID) وایي، چې د توربین د نصب لپاره ځانګړې شوي اویا ملیونه ډالر به ورکړي، خو د دې کار د سرته رسولو لپاره د امریکایي قراردادیانو پر ځای به پیسې په مستقیم ډول د افغانستان د بریښنا شرکت ته ورکړي.

د افغانستان د بریښنا شرکت بیا به په خپله د ماهرو کارګرانو د استخدام او د دې توربین د نصب مسوولیت واخلي.

خدمات ترانسپورت شهري ...

به گفته وی، اگر ریاست تصدی ملی بس که مسوولیت تنظیم این برنامه را بر عهده دارد به گونه درست از فرصت موجود استفاده نماید، تا دو سال آینده بیشتر شهر های کشور از یک سیستم ترانسپورت شهری منظم برخور دار خواهند شد.

این اظهارات در حالی مطرح می شوند که از چند سال به این طرف کابل و بسیاری از شهر های بزرگ این کشور فاقد یک سیستم ترانسپورت شهری اند.

شماری از باشندگان کابل می گویند که از ناحیه نبود بس های شهری به مشکل اند و ساعت ها را در کنار جاده های شهر برای دریافت یک موتر انتظار می کشند.

در همین حال مسوولان ریاست تصدی ملی بس می گویند که برای حل همین مشکل مردم و ایجاد یک برنامه تنظیم خدمات شهری، سیمینار سه روزه را در کابل به راه انداخته اند.

احمد نذیر رضایی رییس این تصدی می گوید که به همکاری دیگر ادارات حکومتی در آینده نزدیک خدمات شهری معیاری را ایجاد می کنند.

به گفته وی، صدها عراده بس که در سال های گذشته از سوی هند، جاپان، ترکیه و پاکستان به افغانستان کمک شده اند، به دلیل عوارض تخنیکی از فعالیت باز مانده اند.

به اساس گزارش ها، کشور های کمک کننده پرزه جات کافی را در اختیار حکومت افغانستان قرار نداده و به همین دلیل این وسایط غیر فعال شده اند.

دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولی یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ

شهادت اونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

خپرونکی اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي خانګه

د امتیاز خاوند: حزب اسلامي افغانستان

مسؤول مدیر: عبدالله "کامه وال"

مرستیال مدیر: عبدالخلیل (خلیل)

د اړیکو شمېرې:

دفتر: ۰۲۰۲۵۷۱۲۳۲

مسؤول مدیر: ۰۷۷۷۲۰۲۲۰۱

مرستیال مدیر: ۰۷۷۲۲۷۵۷۸۳

- د شهادت اونیزه د هر لیکوال او د نظر خاوند د لیکنو هرکلی کوي.
- د شهادت اونیزه حق لري چې د لیکوال لیکنه د ضرورت په وخت داسې اصلاح کړي چې د لیکنې اصل روح ته تاوان ونه رسي
- رالیږل شوي مطالب نه مستردیږي - بوازې سرلیکنه د شهادت د اونیزې رسمي نظر دی.

دیزاین: خواجه وحیدالله | آدرس: دحزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر، د شاداب ظفر بلاکونو شانه. خوشال خان مینه - کابل | Email Add: shahadatnews_kabul@yahoo.com